مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخړ

۲۰۲۳/۰۷/۲۲

# د جمهوریت د سقوط عوامل
## د جنګسالارانو ونډه

(نولسمه برخه)

**تر ټولو ستر ورانوونکی، په سیاسي جامه کې، جنګسالار ډاکټر عبدالله، عبدالله (۱۲)**

**په افغانستان کې سوله او د سولې عالي شورا جوړښت (۳)**

دا مهال چې د سولې عالي شورا له جوړیدلو درې کاله تېر شوي وو او درې کاله یې خوشي په خوشي تېر کړي وو، د هېواد پارلمان ورپام شو، د سولې عالي شورا د ناأهلیو او ناکامیو له امله ملي شورا د ۱۳۹۲ل. ل، کال د ورې په میاشت کې ځانګړې ناسته وکړه، د سولې شورا د کړنو د څېړلو او نظارت په موخه یې یوه کمیټه جوړه کړه او د شورا د لغوه کولو غوښتنه یې هم وکړه.
دا چې د ملي شورا ډېری وکیلان په اداري فساد او خیانتونو کې ښکېل وو، یو شمېر افغانان په دې نظر وو چې د پارلمان وکیلان غواړي له دې لارې د سولې په عالي شورا کې ځانونه ځای کړي، دوی پوهیږي چې د شورا لپاره ۲۰۰ میلیونه ډالر ځانګړي شوي دي. دا داسې یو حالت ؤ لکه غل چې له غل څخه غلا کوي یا داسې چې قصاب له لېوه څخه پسه وژغوري او بیا یې په خپله حلال (ذبحه) کړي.

د حامد کرزي د ولسمشرۍ دوره په داسې حال کې پای ته ورسیده چې د سولې عالي شورا په سلو کې شل، داسې کوم کار نه ؤ کړی چې حساب پرې وشي، حامد کرزي د ولسمشرۍ له مقام څخه د خدای په امانۍ د مراسمو په ورځ وویل:«د سولې ټینګول زموږ د ناتمامو کړنو څخه دي، نوی حکومت باید هغه پر مخ یوسي. د سولې کار چې شاید ډېر اسان هم نه وي خو سولې ته د پاکستان راضي کېدل او په دې لاره کې د پاکستان مرسته، له طالبانو سره د خبرو اترو کلي ده.

حامد کرزي زیاته کړه چې سولې ته د رسیدو په لاره کې مو ډېر کوښښونه وکړل خو امریکا نه غواړي په افغانستان کې سوله راشي، پاکستان غوښتل [د سولې په بدل کې] باید موږ د ډیورنډ کرښه په رسیمت پېژندلي وای.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ



له حامد کرزي وروسته چې کله د اشرف غني او عبدالله د ملي وحدت حکومت جوړ شو، د سولې عالي شورا مشر صلاح الدین رباني د بهرنیو چار وزیر په توګه وټاکل شو، د سولې عالي شورا تر یو کاله پورې بې مشره پاتې وه چې په پای کې د ۱۳۹۴ل. ل، کال د کب په ۴مه نېټه د ملي محاذ جهادي تنظیم پخوانی مشر پیر سید احمد ګیلاني د یادې شورا مشر وټاکل شو.

پیر سید احمد ګیلاني د نورو په پرتله، د سولې عالي شورا لپاره مناسب شخص ؤ خو نوموړی داسې مهال وټاکل شو چې اوبه له ورخه تېرې وې، طالبان برلاسي او ځواکمن شوي وو او حکومت کمزوری شوی ؤ، طالبانو چې نه يې غوښتل له افغان حکومت سره ریښتیني سوله وکړي، ځکه دوی پوهیدل چې په پای کې بری د دوی په برخه دی، نو هسې د سولې د خبرو په نوم یې وخت تېراوه.

دا مهال چې پیر صاحب د شورا مشر ؤ، د حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار له افغان حکومت سره سوله وکړه، د حکمتیار سوله د سولې عالي شورا ابتکار نه ؤ، حکمتیار یوه خیالي هیله درلوده چې د ولسمشرۍ ټاکنې به وګټي او له دې لارې به واک ترلاسه کړي، د حزب اسلامي کاندید قطب الدین هلال د ۲۰۱۴ز، کال په ټاکنو کې ۲،۷۵ سلنه رایې ګټلې وې چې ۱۸۱زرو رایو اچوونکو رایې ورکړې وې. ښايي حکمتیار محاسبه کړې وې چې که پخپله ځان کاندید کړي نو خامخا به ډېرې رایې ترلاسه کړي او ولسمشرۍ مقام ته به ورسیږي. هغه وو چې حکمتیار ولسمشرۍ ته د رسیدلو په موخه له افغان حکومت سره سوله وکړه او د ۱۳۹۵ل. ل، کال د تلې میاشتې په لومړۍ نېټه د سولې عالي شورا او حکمتیار له استازي سره د سولې تړون لاس لیک شو.



د ۲۰۱۴ز، کال په ټاکنو کې چې د حزب اسلامي استازي قطب الدین هلال، کوم شمېر رایې خپلې کړې وې، له هغې څخه د حکمتیار رایې له نیمو هم کمې وې، د ټاکنو کمیسیون مشرې حوا عالم نورستانی د ګلبدین حکمتیار رایې (۷۰زره ۲۴۳) اعلان کړې، په داسې حال کې چې د ۲۰۱۴ز، کال په ټاکنو کې د حزب اسلامي کاندید قطب الدین هلال (۱۸۱زره) رایې وړې وې.
د ولسمشرۍ په ټاکنو کې، حکمتیار د خپل استازي هلال د رایو پر بنسټ محاسبه کړې وه، هغه نه پوهیده چې کومې رایې قطب الدین هلال ترلاسه کړې دي له هغو زیاتې نه شي تر لاسه کولی، بلکې د هغو نیمايي هم نه شي ترلاسه کولی. د حکمتیار اټکل داسې ؤ لکه یو کلیوال چې ښار ته تللی ؤ، د هغه مهال څو پیسې یې د حلوا یو دوکاندار ته ورکړې چې حلوا پرې وپلوري، دوکاندار د څو پیسو په ارزښت یو شخوند (ګوله) حلوا ورکړه. کلیوال چې هغه یوه ګوله حلوا وخوړه، دوکاندار ته یې وویل: خوند یې ښه دی، راکوه یې. دوکاندار ورته وویل: څه څه خپله مخه وهه، د دغو څو پیسو همدومره حلوا کیږي.

د سولې عالي شورا مشر پیر سید احمد ګیلاني څو میاشتې وروسته، د وریښې ناروغۍ له امله وفات شو.
د ګیلاني له مړینې وروسته اشرف غني د طالبانو یو بل پخوانی دښمن جنګسالار، محمد کریم خلیلي د هزاره ګانو د وحدت ګوند مشر چې د رباني په څېر یې له طالبانو سره جګړې کړې وې، د سولې شورا مشر وټاکه، خلیلي پخوا د نوموړې شورا مرستیال ؤ. (۱۵ غبرګولی ۱۳۹۶)

د سولې عالي شورا مشر محمد کریم خلیلي، د شورا د نورو مشرانو په څېر هېڅ ونه کړل، تر دې چې د مسکو په یوه غونډه کې طالبان دې ته حاضر نه شول چې له کریم خلیلي سره د سولې خبرې وکړي.

له بلې خوا امریکایانو او طالبانو تر منځ د متحده عربي اماراتو پلازمېنه ابوظبی کې د لومړي ځل [؟] لپاره مخامخ او رسمي خبرې وشوې. خبرو کې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد ګډون درلود. د افغان حکومت د ملي امنیت سلاکار هم کنفرانس ته د ګډون په موخه ورغلی ؤ خو طالبانو له افغان پلاوي سره له لیدو انکار وکړ. (۱۷ډسمبر ۲۰۱۸)

د ۱۳۹۸ل. ل، کال د کب میاشتې په لسمه نېټه، وروسته له څو ځله ناستو د امریکایانو استازي زلمي خلیلزاد او د طالبانو استازي ملا عبدالغني برادر تر منځ د قطر په پلازمېنه دوحه کې د ۳۰ هېوادونو او ملګرو ملتونو د استازو پر وړاندې، د سولې تړون لاسلیک شو، په تړون کې افغان حکومت او د سولې عالي شورا ته ځای نه ؤ ورکړای شوی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پاز والي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

سره له دې چې د سولې عالي شورا مشر محمد کريم خليلي ته دواړو لورو: امريکا او طالبانو، هيڅ اهميت نه درلود خو بيا هم نوموړي د امريکايانو او طالبانو تر منځ د سولې د تړون لاس ليک ستاينه وکړه، ويې ويل چې د سولې بهير بنسټيز، دايمي او مهمه برخه د افغانستان د اسلامي جمهوريت لخوا د مذاکرو لپاره د هيأت ټاکل دي.

افغان حکومت هم وويل چې په هره ناسته کې چې دوی ګډون ونه لري او د سيمې د هېوادونو نظر په کې مهم نه وي، دوی يې نه مني. افغان چارواکي دا هم وايي چې د سولې پلان يې پر مېز دی او طالبان چې کله وغواړي استازي به يې ور سره خبرې کوي خو طالبان له افغان حکومت سره نېغې خبرې نه کوي او د امريکا لاسپوڅي يې بولي. (بي، بي، سي. ۶ کب ۱۳۹۷ - ۲۵ فبروري ۲۰۱۹)

دا مهال چې طالبان له هر اړخه ځواکمن شوي وو، د ۱۳۹۷ کال د زمري مياشتې پر ۲۳مه نېټه د کوچني اختر په مناسبت د افغانستان د حکومت د يو اړخيز اوربند له اعلان وروسته طالبانو هم د درېيو ورځو لپاره سراسري اوربند اعلان کړ، د دواړو خواوو سرتيري ښارونو او د يو بل تر واک لاندې سيمو ته ولاړل، له خپلو خپلوانو سره يې په ډاډه زړه، پرته له وېرې شپې او ورځې تېرې کړې، په يوځې ګاډو ليدل کېدل چې دواړو لورو ملي بيرغونو او د طالبانو سپين رنګي بيرغونه څنګ په څنګ پورته کړي دي، اختر مبارکي يې وکړې او يو تر بل يې په غېږو کې سره ونيول او د دواړو غاړو يو شمېر سرتيري يو بل ته په ژړا شول، د طالبانو مشرانو چې دا حالت وليد ويې ويل چې هغو طالبانو ته به انضباطي سزا ورکړي چې د حکومت تر واک لاندې سيمو ته تللي دي او له حکومتي پوځيانو سره يې انځورونه اخيستي دي.
دغې اوربند د دواړو لورو پر ټيټ پوړو کسانو باندې مثبت اغېز پرېښود خو له بده مرغه چې اوربند لنډمهالی ؤ او وروسته د ۲۰۱۸ز، کال له اوربند څخه په راتلونکو اخترونو کې څو ځلې اوربند وشو خو د لومړي ځل اوربند سره يې توپير ؤ، داسې چې د حکومت او طالبانو ځواکونه په دفاعي حالت کې وو او د يو بل سيمو ته نه شول ورتللی، په ځينو سيمو کې سترې او وړې نښتې هم وشوې. د سولې عالي شورا په هر ځل اوربند کې وويل چې کوښښ کوي اوربند وغځېږي خو د دوی خبرو او غوښتنو کومه نتيجه ورنه کړه.







(د طالبانو او حکومتي ځواکونو ترمنځ د ۲۰۱۸ز، کال بې سارې اوربند)

**نور بيا**

[د ليکوال: آرشيف](#)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ